انجنیر عبدالصبور ساپی ۱۸/۰۵/۲۰۱۸

# یوقدم یو آواز انقلاب انقلاب
# (دوهمه برخه)

په لمړۍ برخه کې مو د حق او د هغه اړخونه، د انګرېزانو کړني او پښتنوسره ظلمونه، ناروا وي اوهم د پښتنو بېسواد او له تمدن نه محروم ساتلو کې د انګرېزانو ستر رول او پاکستانته ئې په دې هکله سپارښتنوته د تاریخ دیوې توري برخي په توګه کتنه وکړه، په دغه برخه کې د فخرافغان باچاخان د عدم تشدد مبارزو ته هم یو نظر واچول شو، اوس راځو پاتي برخي ته!

**<u>د باچاخان د عدم تشدد مبارزي پايلې:</u>**
که څه هم باچاخان خپل ټول عمر د عدم تشدد مبارزي په لار کي تېر کړ مګر هېڅکه ئې هم وسلې ته لاس وانچو خو سره سره له دې هم د دې مبارزې اغېز دومره قوي او زننده و چي انګریز او پنجاب ئې برداشت نشو کولی، نو ځکه باچاخان ئې په وار وار زندان کي واچو چي په دې توګه د دۀ زیات عمر په زندان کي ضایع شو، هغه خواته ګاندي وتوانېده چي خپله د عدم تشدد مبارزه د هندوستان په نیمه وچه کي بریالۍ کړي خو دې خوا باچاخان په مخکي ستر خنډونه پراته ول، دا خنډونه څه ول او څه عامل سبب شو چي د باچا خان د عدم تشدد مبارزه دې، د پښتنو په ژوند کي دستربدلون سبب نشي او پښتانۀ خپلې آزادي ته ونه رسېږي او دغه مبارزه دې ملموسې پايلې ونه لري، چي په لاندي ډول ئې څېړم:

- ۱- باید له هرڅه مخکي دا ووایم چي د اوسني ناسور پاکستان منځته راتلل په ۱۹۴۷زکال کي چي د باچاخان د نظر خلاف منځته راغی یا جوړ شو او باچاخان د دې جوړېدو سخت مخالف و، مګرعلی جناح غوښتل چي پاکستان جوړشي او دغه برخه کي انګرېزان هم د جناح سره ملګري ول، خدای بخلي باچاخان نهرو ته په سخته ژبه وویل چي «مونږمو خرڅ کړو» نوځکه پاکستان باچاخان ئې هېڅکله ښه نه لیده او د عدم تشدد مبارزې کړاونه له همدې ځایه پیل شول.

- ۲-باچا خان د ټولو تلاشوسره سره و نه توانېدۀ چي دغه مبارزه د یوې واحدې رهبري لاندې راولي، دا د باچاخان ناتواني نه وه، یوه خوا پرلپسې زندانونه او دبلې خوا د پښتنو مشرانو بې ځایه غرور او د انګرېز د تفرقي اغېز و چي پښتانۀ ئې تردېره حده تر تاثیرلاندې راوړي ول، له بده مرغه همدا ذهنیت تراوسه هم پښتانۀ کړوي خو دوی لا هم د غفلت په خوب ویدۀ دي! دا دې عدم تشدد مبارزه کي یوه ستره تشه وه، خپله باچاخان په دې هلکه د آزادي بخښوونکو مبارزو او د هغو د نیمګړتیاو په اړه په خپلو لیکنو کي داسي یادونه کړې ده « په دې دوران کي به کله نا کله د پرنګیانو او آزادو قبایلو ترمینځ جګړې کېدلې خو ټول قبایل په یوه سلا او یوه خوله نه ول، نو ځکه انګرېزانو ته څه نقصان نه رسیده، چي مومندو به حمله وکړه وزیر، مسود او اپریدي به کرار ناست ول، او که به د اپرېدو او انګریزانو جګړه وه، مومند، وزیر او مسود به نه ول خبر، هر یو به ویل چي دا د هغه جنګ دی، موږ یې څه کوو. په کار وه چي ټول قبایل په یوۀ غورځنګ کي راټول شوي وای، ښه روزل شوي وای او ټول یوځل راپورته شوي وای». چي په خواشینۍ سره باید و وایم چي همدا ستونزه تراوسه هم دوام لري او پښتنانه سره وېشلي دي.

- ۳-بله ستره تشه د باچاخان د عدم تشدد مبارزه کي د خلکو بې سوادي، دسیاسي شعورکمښت، او د فقر ستره او لوږه کچه وه چي باچاخان ورسره لاس په ګریوان و که څه هم باچاخان د تعلیم په هلکه ستر ګامونه پورته کړل خو دښمنانو په قرار نه پرېښود چي پورته ورته اشاره وشوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

- ۴ـکله چې غازی امان الله خان له تخته پرېوته سقوي او بیا نادرخاني منځته راغله باچاخان هغسې چې باید حمایه شوی وای؛ حمایتې نه کېدهٔ، او داسې آزادي ښونکې مبارزې چې ملاتړ ونلري مخته وړل او بریا ئې ګرانه خبرده۰

- ۵- د پاکستان استخبارت د انګریزانو تر تربیې لاندې په پښتنو سیموکې بی سوادي، فقر اود قومونو ترمنځ د نفاق اور ته لمنه وهله او دغه سیمې ئې هم له اقتصاد اوصنعت او هم ئې له تحصیل، فرهنګ او هنرنه محرومې وساتلې، هرځه ئې دیني مدرسوته وقف کړل او په دنیائې د بطلان کرښه کش کړه بس تند لاري ئې وروځل چې افغانستان ته سرخوګی پیدا کړي او قبایل وځپي، یعنی پښتون په پښتون ټکول شروع شول۰

- ۶- په ډېره خواشیني باید ووایم: دخدای بخلي فخرافغان باچاخان له کهولت، ناروغتیا او بیا د دنیانه د جامه بدلولو روسته، پاتې شونو یا ځایناستو د باچاخان آرمان پوره نه شوکړی، د پښتنو له حقونونه دفاع او ملاتړ، د باچاخان دعدم تشدد د پالیسي بریا ته رسَول، خپل ځای د پنجاب سره ګذران اوفوجیانوسره سرخوزونې ته وسپارهٔ، پښتونخواکې جلسې او مجلېسونه جوړېدل خو دې لپاره نه چې د باچاخان په قدم څنګه پل کېږدي، څرنګه پالیسي او ستراتېژي جوړه کړي یا څنګه د پښتنوحقوق خوندي کړي، څنګه پښتنوسیموکې حق و عدالت تأمین کړي، بلکه له دې لپاره وې چې څوک څنګه ځان څوکۍ او مقام ته ورسوي، څوک څنګه ځان اسامبلې تالارته ورسوي دا پالیسي سبب شوه چې د پښتنو ټول توان، دې لارې کې میراتې شي۰

- ۷-بلې خوا ته د افغانستان ناورین او ناوړه حالات دشورویانو راتګ چې مهاجرتونو او جنګونو زور واخیست د یوشمیرزیاتو ملکونو مرستې پاکستان ته جاري شوې دا هم د دې سبب شو چې دیوې خوا د عدم تشدد مبارزه خاموشه پاتې شي او د بلې خوا د پښتنو حقوق د پنجابی فوج له خوا غصب او د ټولنیز ژوند ارزښت او آزادي، خوراک دهدیرو شي۰

قبایلو او پښتونخوا د افغانستان له انقلابه خپل ملاتړ اعلان نکړکه څه هم د کابل سره ئې اړیکې درلودلې د بلې خوا ئې پاکستان فوج ته اجازه ورکړه چې په قبایلي سیموکې فعالیتونه ترسره کړي ملتپالو پښتنو کوندونو کولای شول د مېلمه پالنې دود سره سم د مهاجرو کمپوته اجازه ورکړي او د پاکستان نظامي فعالیت مخه په قبایلو کې ونیسي؛ مګر ونشول، همدا و چې پاکستان رو رو په قبایلي سیموکې منګولې ښخې کړې، د پښتنو له دې مرستې سره سره د پاکستان فوجیانو پښتون ضد سیاست پرخپل ځای پاتې شو څه چې؛ لا شدد ئې ونیو، فوجیانو اوISI وغوښتل چې په مجاهدینو او طالبانو افغانستان تر خپل ولکې لاندې راولي یعنی د خپل سیاست تابع ئې کړي او په ضمن کې داسې یوه لوبه جوړه کړي چې په پښتنو سیمو کې خپل اغېز اوتسلط زیات کړي، دوۍ داسې اټکل کاوه هر وخت چې وغواړي کولی شي پاکستاني طالبانو مخه ونیسي نوځکه ئې غوره وګڼرله چې خپل ملک کې هم طالبان جوړ کړي چې هم پښتانه پرې وټکوي او هم د همدې بهانې نه په ګټه اخیستلو پاکستاني فوج قبایلي سیمو ته مخه کړي او دا سیمې خپل واک کې راولي، صوات ، دیر، بنو، وزیرستان ټوله پښتونخوا ئې بمباران کړه ځوانان و سپینږیرې ترینه په مرموز ډول ورک، زنداني او یا ووژل شول، د طالبانو کړۍ چې د دوۍ په واک کې وې د پښتنو ځوانانو په نیولو او وژلو کې استعمال کړې. خوله نیکه مرغه هغسې چې فوجیانو او ISIګڼرې وه هغه نتیجه ئې تر لاسه نکړه، د پاکستان د فوج اوISI د نظرخلاف نن دخلکو سیاسي شعور زیاته اندازه لوړشوی په ځوان نسل کې داسې یونهضت او تحرک را ټوکېدلی چې پښتانهٔ ئې ترهر وخته زیات سره یو غږ او یو آواز کړي داسې ښکاري چې د پښتنو په زړونو کې سترغم و درد له پاکستاني کرنیلانو د ظلم او ستم پروت ده معلومه ده چې دا درد او ویر به طوفاني کېږي علامې ئې له ورایه ښئي چې ستر سېلاب راروان ده که نن وي که سبا د دې مخه څوک نشي ډب کولی، پاکستاني کرنیلانو تراوسه داسې تصور نشو کولی چې پښتانهٔ به وچتیږي خونن دا د پښتون ژغورنې موومنت یا PTM د پښتنو ځوانانو تحریک ده چې د پاکستاني فوجیانو خوب ئې حرام کړی ده، اوس افغانستان ته یوستر بل چانس پلاس ورغلی ترڅو هم د پښتنو حقوق اعاده کړي او هم پنجاب ته سخت سبق ورکړي، هم په بلوچو سیموکې او هم په پښتونخواکې کوم غورځنګونه چې راټوکېدلي دا د افغانستان په خیر دي خو یوې سترې ستراتېژي او پلان ته ضرورت لري ترڅو دغه پاڅونونه ښه مدیریت شي، بې ځایه به نوي ووایم د خراسان غوښتونکو او وطن پرولونکو بوبولالې د پنجاب یوه دسیسه ده ترڅو افغانستان د پښتنو د دغه غورځنګ له فعالیتو لرې وساتي اوهم ئې د مرستې لاس ورکولو مخه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ونيسي، که د افغانستان دولت دا موقع پيدا نکړي چې د غورځنګ لاس نيوى وکړي دا به ډېر دافسوس خبره وي ځکه بلکل روښانه ده چې د کوزې پښتونخوا د پښتنو بريا د افغانستان سياسى او اقتصادي ثابت د تل لپاره تضمينوي او افغانستان بايد هېڅکله دا فرصت له لاسه ونباسي، دا چېPTM څنګه منځته راغى او څنګه پرمخ ځي د افغانستان رول به پکې څه وي لاندې به ورته کتنه وکړو٠

د دوهمې برخې پای
نوربيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ